**د وېرمونټ د روغتيا رياست لابراتوار**
**فزيکي پته: 359 South Park Drive, Colchester, VT 05446**
**پستي: PO Box 1125, Burlington, VT 05402-1125**
**(802) 338-4724 (800) 660-9997 (يوازې په ايالت کې)**

# د باکتريا ټېست کول

**د څښاک د اوبو د بېلګو د را ټولولو او بسته بندۍ لپاره لارښووني**
**د A، A، A او NU کيټونه (د کوليفورم/ E. coli باکترياوو لپاره)**

**مهرباني وکړئ د خپلې بېلګې له اخيستلو څخه مخکې دغه لارښووني په غور سره ولولئ.**

## په کېټ کې بايد شتون ولري:

- يو لېبل لرونکی سټرېل 100 ملي لېټره بوتل له سوډيم تايوسلفيټ ساتونکي سره. کېټونه د اړتيا تر وخته د خونې د تودوخې پر کچه ساتل کېدی شي.
- يوه **"د اوبو د بېلګې د اخيستلو مالوماتي فورمه"** (کيم 202)
- يو بېروني کارتن چې د پست لېبل پرې لګول شوی وي
- يو **"د اوبو د باکترياوو د کېټ د استولو او لېږدولو لپاره لارښووني"** (اډمېن 978). بېلګې د هغې ورځې پر سهار را ټولې کړئ چې تاسو غواړئ وا يې ستوئ تر څو د هغوی د لېږدولو او په لابراتوار کې د پروسس کولو لپاره وخت ورکړل شي. **د لابراتوار ټست کول <u>بايد</u> د بېلګې له ترلاسه کولو څخه وروسته په 30 ساعتو کې دننه پيل شي، که داسې ونشي، نو رد به شي.**

مهرباني وکړئ د بېلګې د اخيستلو د بوتل پای نېټه په ياد ولرئ، کومه چې د پستي استولو د بوتل د پوښ پر لېبل او د داخلي بېلګې د را ټولولو د بوتل پر پوښ ليکل شوې ده. **د را ټولولو هغه بوتلونه مه کاروئ چې نېټه يې تېره وي.** له نېټې تېر کېټونه او کاغذونه بايد د وېرمونټ د روغتيا رياست لابراتوار ته واستول شي تر څو په وړيا توګه بدل کړل شي.

**لابروتوار يوازې هغه بېلګې قبلوي چې د بسته بندۍ لاندې لارښووني تعقيبوي.**

**لارښووني**

## خپله بېلګه راواخلئ:

که چېرته تاسو له يوه کيټ څخه ډېرو لپاره بېلګې اخلئ، نو مهرباني وکړئ د بېلګې له اخيستو څخه دمخه د ټولو کيټونو لارښووني ولولئ. ټيست له بېلګې اخيستو څخه د مخه له 3 تر 5 دقيقو پورې فلش ته اړتيا لري. دا چې د څښاک د اوبو بېلګې څه ډول را ټولې کړئ، دلته يوه ويډيو وګورئ: [http://www.healthvermont.gov/environment/drinking-water](http://www.healthvermont.gov/environment/drinking-water).

1. د اوبو هغه نل وکاروئ چې په کور کې تر ټولو په عمومي ډول د څښاک اوبه اخيستل کېږي. د اوبو د نل د جالۍ د لرې کولو لپاره يو پاک کاغذي دستمال وکاروئ. د هغو نلونو کارولو څخه ډډه وکړئ چې اوبه شيندي يا ليک شوي دي.
2. مخکې له دې چې بېلګه را واخلئ سړې اوبه له 3 تر 5 دقيقو پورې وبهوئ.
**يادونه: کله چې د ګډو اوبو د نل (يوه لاستي) نل کاروئ، تر 2 دقيقو تودې اوبه، او بيا تر 2 دقيقو سړې اوبه وبهوئ. بيا له سړو اوبو څخه بېلګه واخلئ لکه څنګه چې لاندې ښودل شوې ده.**
3. **د بوتل پر اړخيز لېبل خپل نوم او د ټيلفون شمېره وليکئ.**
4. سرپوښ لرې کړئ چې کاغذي مهر مات شي. که چېرته کاغذي مهر د مخه خلاص شوی وي، نو د بل بوتل دپاره لابراتوار ته زنګ ووهئ. **د بوتل خله مه لمس کوئ. بوتل مه مينځئ، دا يو اړين خوندي کوونکی لري.**
5. د اوبو بهير کم کړئ. بوتل د **100 ملي لېټر له کرښې** څخه لږ پورته برخې پورې ډک کړئ. دا ټيست لږ تر لږه 100 ملي لېټره اوبو ته اړتيا لري. بوتل له حده زيات مه ډکوئ.
6. د بوتل پېچي سرپوښ بدل کړئ. د بوتل سرپوښ ښه کلک کړئ ترڅو د څڅېدو مخنيوی وشي.
7. د اوبو د بېلګې اخيستلو د مالوماتو فورمه په بشپړه توګه ډکه کړئ (لاندې وګورئ).

## د مالوماتو فورمه څنګه بشپړه کړئ او بېلګه څنګه وتړئ:

**کېدی شي هغه بېلګې چې له نيمګړو مالوماتو سره واستول شي يا مالومات نه لري رد شي يا د ټيست د پايلو د خبرتيا ورکولو د ځنډ لامل شي.**

1. د اوبو د بېلګې اخيستلو د مالوماتي فورمې په پورته کينه برخه کې د هغه تن نوم، پته او برېښناليک وليکئ چيرته چې تاسو د ټيست د پايلو راپور لېږل غواړئ.
2. د بېلګې د ترلاسه کولو نېټه او وخت وليکئ. **مهرباني وکړئ په ياد ولرئ: د بېلګې د ټيسټ کولو دپاره بايد <u>د بېلګې اخيستلو نېټه او وخت</u> چمتو شي.**
3. د بېلګې ترلاسه کوونکي تن نوم پرې چاپ کړئ.
4. د ورځې پر مهال کارېدونکی ټيلفوني شمېره او د سيمي کوډ وليکئ.
5. په لاندې بوکسه کې د هغه ځای موقعيت چيرته چې بېلګه ترلاسه شوې وه، او د ترلاسه کولو نېټه، او وخت وليکئ.
6. مهرباني وکړئ ټول نظرونه وليکئ چې تاسو يې احساسوئ د دې ټست لپاره ګټور دي.
7. ***د کور څښتنان:** که چيرته په سيستم کې په تېرو دوه اونيو کې کلورين کارول شوی وي، نو ووايئ.
***<u>يوازې</u> د اوبو عامه سيستم:** مهرباني وکړئ د پاتې کلورينو د ساحې پايله څرګنده کړئ. يادونه: لابراتوار به د څښاک د اوبو دغه بېلګه قبوله کړي، څرنګه چې په بېلګه کې بشودل شوې وي، تر څو د معياري مېتوډ 9223 له لارې ټيست شي. بېلګه به د ورمونټ د روغتيا رياست په لابراتوار کې د پاتې شويو کلورينو لپاره نه ټيست کېږي.
8. د بېلګې بوتل او د اوبو د بېلګې د اخيستلو بشپړ شوې فورمه په لېبل لرونکي لوښي کې کېږدئ. مهرباني وکړئ بېلګه د لمر له نېغو وړانګو څخه لرې او سړه وساتئ. **کنګلوئ يې مه.**
9. د A او A A کيټ ټولې بېلګې يوازې د کوليفورم باکترياوو لکه *Escherichia coli* چې د ککړتيا يو نښان دی، دپاره ټيسټ کېږي. د NU کيټ د کولېفورم باکترياوو او *Escherichia coli* تر 200 شمېر ورکوي يا په هر 100 ملي ليټره اوبو کې د *Escherichia coli* شمېر ورکوي.

## ستاسو د بېلګې لېږدول او تاسو به کله پايلې ترلاسه کوئ:

1. بېلګه د خوني د تودوخې پر کچه په هغه بوتل کې تر ټولو تېزې وسيلې له لارې لېږدول کېږي. **د لابراتوار ټيست بايد د بېلګې له اخيستلو څخه په 30 ساعتونو کې دننه پيل شي. "د اوبو د باکترياوو د کيټ د استولو او لېږدولو لپاره لارښووني"** (اډمېن 978) وګورئ.
2. په همدغه ورځ ټيسټ پيلولو دپاره بېلګې بايد د مازديګر تر 4:30 بجو ترلاسه شي. تر 4:30 بجو ترلاسه شويو بېلګو پايلې د راتلونکي کاري ورځې د غرمې تر 3 بجو وروستو ترلاسه کېږي.
3. د جمعې پر ورځ ترلاسه شويو بېلګو پايلې به تر راتلونکي دوشنبې ترلاسه نه وي.
**بېلګې به رد شي که چېرته:**
* د بېلګې اخيستلو نېټه او وخت پر بېلګه او فورمه شتون نه لري
* پر فورم د بېلګې نوم نه وي
* د بېلګې اخيستلو د بوتل نېټه تېره شوې وي (د بوتل پر لېبل نېټه وګورئ)
* د بېلګې اندازه له 100 ملي لېټره څخه کمه وي.
* بېلګه له هغه بوتل څخه پرته په بل بوتل کې استول شوې وي کوم چې د لابراتوار په کيټ کې درکړل شوی و.
* **بېلګه په لابراتوار کې د ترلاسه کېدو پر مهال له 30 ساعتونو څخه زياته وي.**

که تاسو د دې لارښوونو په اړه کوم نظرونه يا پوښتنې لرئ، نو مهرباني وکړئ د دې فورمې پر لومړئ پاڼه ورکړل شويو ټيلفوني شمېرو کې يو ته زنګ ووهئ. ستاسو څخه مننه.